مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۱/۱۲/۲۷

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## سلمه برخه

زما د بدو ورځو یاره
د ژوندانه چارې مې ګډې وډې دینه

د خلکو خولې بندوی نشم
د مینې لارې په خارم یار مې راځینه

د ښتنو بده رواجه
یار چې ولور ګټي نو زه به زړه یمه

دردونه ډیر په تا اوړده شول
هوواده جوړ شي چې خوشال دې ووینمه

که سړی لږ ځیر شي، هره لنډۍ ځانته یوه کیسه او یا خاطره لري، یا د ټولنې ناوړه دودونه، یا د کورنۍ شدید قیودات، یا مذهبي قوانین، یا مینه، یا کرکه او یا...

چې لالی مري لالا بیمارکړی
چې د لالا په غم کې یارته وژاړمه

د دې لنډۍ د فلسفې په باب ښاغلي ولي والله

صاحبزاده داسې څه لیکلي دي:

دا لنډۍ د یوې پاکې او ښتنې مینې پوره ثبوت دی، چې یوه ښتنه میرمن د یار د مرګ خبر اوري، په ښکاره د خپل زړه ملګري پسې په ساندو نشي ژړلی، مګر د خپل ورور ناروغتیا ته په دغه غمناک حالت کې خوشحالیږي، او دغه رنګ یې بې اختیاره له خولې وځي:

چې لالی مري لالا بیمارکړی
چې دلالا په غم کې یارته وژاړمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا پیغله داسي نه ده، چي خدای مه کړه ورور به ورباندي د خپله ځانه ډېر ګران نه وي، داسي به وي چي د ورور نه به یې خیل ژوند هم خیرات وي، خو دلته یې د خولي او د زړه خبره یوه نه ده، دلته یې د لالا په ناروغه کیدو هم د زړه درزا پیل کیږي او هغه د خپل محبوب په غم کي پټي اوښکي تویوي، دلته یې دلالا ناروغتیا ارام ته نه پریږدي او هلته یې د زړه پاچا د مرګ په بستر له سترګو نشي لیرې کولی، دا نو یو بل رنګ د دوي ترمنځ د یوې پاکي او محترمي میني پټ راز دی، چي په دواړو حالاتو کي جلی د غمونو سېلاب په مخه کړې ده.

په دغه نړۍ کي هیڅوک داسي نه ګوري، چي په دغه نازک حالت کي نوموړي ته د تسلیت لپاره ترغاړه وځي، ترڅو لږه د ارام لپاره یې د غمونو له دریابه لږه کناره کړي، دا نو بیا هغه وخت دی، چي یوه لور ته ورته د سترګو په وړاندي ګران ورور یې د ناروغۍ په بستر پروت دی او دا ورته په نازکو لاسونو لکه د یوې وینځي خدمت کوي، او هلته یې د سترګو پنا لالی د مرګ په بستر بې روحه جسد د ده د دوو سترګو دیدن ته تږی پروت دی، خو دغه خپل غم په خپلو اوښکو کي پټوي، د کورلوی او واړه د خپل ورور له غمه مړه دي، خو یوازې دغه نازولي د دوو جسدونو کټونو ته خپلي مړې مړې اوښکي تویوي، ترهغه چي ژوندۍ وي دغه د مرګوني حالت به یې ارام ته پرینږدي.

زموږ د پښتني نجونو دا د ژوند اصلي مینه ده، کومه ورته ورسیږي او د چا په ارمانونو د نړۍ توري خاوري واوري.»

دا هم د دې برخي ځو نوي او جالبي لنډۍ:

**په ما دې مرګ را پېرزو نه دی**
**سترګي دې واړوه سورى، سورى دې کړمه**

**دا خو مې زړه دی چي لا ټینګ دی**
**دومـــره غـمـونـه دریـابـونـه وچوینـه**

**د خزان پاڼه دې کړم خدایه**
**که باد را ولوت ما به کوم ګړنګ ته وړینه**

**زما به ته یادېږې یاره**
**که د جنت په منارو ولاړه یمه**

**قبر سورى کړه، حال مې ګوره**
**چنجي لګیا د زني خال مې ورانوینه**

**زما د بدو ورځو یاره**
**د ژوندانه چارې مې ګډې وډې دینه**

**د خلکو خـولي بـنـدوى نـشـم**
**د میني لارې به ځـارم یـار مې راځـینه**

**اوښکـې ناپاکـې دي که پاکـې؟**
**زما پر ځیرې ګرېوان ځې، لمونځ پرې کومه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

چې خدای کوي، هغه به کېږي
هرمازيګر په زيارتو مکړه سوالونه

سپړنی کال د واده نه دی
شولي شډلې، غنم باد وهلي دينه

د پښتنو بده رواجه
يار چې ولور ګټي نو زه به زړه يمه

خالونه يو وي يا خو دوه وي
جينی پر زنه لکه مې کرلي دينه

جانانه غم دې مسلمان دی
ما د ملا تر اذان مخکي وېښوينه

دردونه ډير په تا اوړده شول
هېواده جوړ شې چې خوشال دې ووينمه

غمونه ډير په تا اوړده شول!
هېواده جوړ شې چې خوشال دې ووينمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولـئ